مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اسماعیل لاروی

۲۰۲۵/۰۹/۱۷

# پړانګان او غرڅې

## یو سمبولیک نظم

**شین ځنګل لکه د خدای د رحمت سیوری**
**د غرڅو او پړانګ تر منځ ورک شوی لوری**
**پړانګ راوړي غرڅو ته رنګ رنګ پیغامونه**
**په تسکین یې غرڅې لولي توری توری**

**...**

**غرڅې وایي دا دوستي دې وي تر ډېره**
**د پړانګانو دوښمني ده نور تري هېره**
**چې کبلي په منډه زده کړي، څه ضرور ده؟**
**په ځنګل کې نور نه ظلم شته، نه ویره**

**...**

**"تور وحشت دی، رحم نشته د پړانګ لور ته"**
**کوم غرڅه چې دا خبره کړي را پورته**
**پړانګ په قهر، وایي دا لوی فتنه گر دی**
**دا یاغي غرڅه په غاړه کړي خپل کور ته**

**...**

**پاتې نورې غرڅې وایي، ښه شوځ، ښه شوځ**
**چې یې سور په وینو باندې هر واښه شوځ**
**د پړانګانو په دوستي باندې شکمن و**
**چې کبلي یې ویښول، وګورئ څه شوځ؟**

**...**

**پاس په ونه کې د ناست طوطي زړه ډک شو**
**د غرڅو دې مکرر مرګ ته هک پک شو**
**په مات زړه یې کړې شروع د پاس خبرې**
**په ترخه لهجه یې وې، لاړ لطف ورک شو**

**...**

**غرڅو! ما لیدلی رحم د پړانګانو**
**زور او چل واک د ځنګل د پاچایانو**
**په غفلت روږدو ته جوړه بهانه ده**
**نور دوستي څه د شریرو دوښمنانو؟**

**...**

**دا ځنګل دی، لوړې ځوړې او خوړونه**
**په کبلیو باندې زده کړئ لوی توپونه**
**ژوند یې بویه چې هنر لري او منډه**
**پرېږدي، کچ کړي لري لري افقونه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ